# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |



**د افغانستان انقلابي سازمان**


**۱۰/۰۸/۲۹**

## افغانستان کوم لورې ته روان دی؟

دا پوښتنه له یوې مودې څخه د روښا ن اندو، سیاسي تشکیلاتو او د افغانستان د یو شمیر خلکو تر منځ توده ده او ډېرې د اوضاع د پیچلتیا څخه خبرې کوي، تر دې حده چې باور لري چې «په خپله امریکایان هم نه پوهیږي چې څه کوي» او پدې باور دي چې امریکا او ناټو په افغانستان کې پاتې راغلي او له دې تلك څخه د وتلو لپاره د خلاصون لاره لټوي. دا په داسې حال کې ده چې دوی په خپله د امپریالیزم او نیواك د نه سمه پیژندنې له سببه د اوضاعو په څېړنې کې پاتې راغلي او دا وضعیت د امریکا په مشرتابه د نیواك ناکامي ګڼي. دوی چې له امپریالیزم او اشغال څخه پوره شناخت نلري، په سادګي فکر کوي چې له وضعیت څخه د خلکو ناخوښي ګواکې په افغانستان کې د امریکا او د هغه د پلویانو ناکامي ښیيي او دی اساسي اصل ته پام نکوي که چیرې د افغانستان خلك د حالاتو څخه راضي وي نو بیا نیواك او تجاوز کومه معنی نه لري، ځکه چې صرف په یوه انقلابي نٰظام کې چې برابري او خلکو ته د خدمت اصل یې په لومړیتوبونو کې ځای لري، خلك راضي کیدلی شي، نه په یو ګوډاګي او طبقاتي مزدور نٰظام کې چې د اقلیتو ستمګرو ملاکانو او کمپرادورانو د ګټو ساتونکي وي.

د افغانستان انقلابي سازمان د یوه مخکښ سازمان په توګه دا خپله دنده ګڼي چې «د مشخصې اوضاع څخه د مشخص تحلیل» له مخې دې پوښتنو ته ځواب ورکړي او د توان تر کچه پورط داسې فکري مغشوشتیا ته د پای ټکی کیږدي. په همدې خاطر د «افغانستان کوم لورې ته روان دی؟» لیکنه خپل غړو، پلویانو، انقلاپي غورځنګ او د افغانستان ټولو زیار کښو ته وړاندې کوي.

زموږ بعضې ساده سیاسي شنونکي چې د لویدیځ د استخباراتو سره همغږي دی، د باراك اوباما قدرت ته د رسیدلو سره او د هغه د «بشر دوستانه» سیاستونو او «د بوش د سیاستونو څخه د نیوکو» سره یو لړ جالبو سیالي تبلیغاتو ته چې ګواکې «انسان ته د خدمت» لمر له سپیني مانۍ څخه غوریدلي، مخه کړې او کله چې اوباما اعلان وکړ چې افغانستان ته به په جدي توګه پاملرنه کوي نو ډېرې له دې تور پوستي څخه چې د «حسین» نوم یې له خپل نامه سره نښلولی، د معجزې هیله پیدا او پدې فکر کې دي چې «دا ځل به یې هیواد جوړیږي» او نور به د جنګ او جګړې څخه خلاصون مومي او په ځانګړې توګه دا تمه هغه وخت لا زیاته شوه چې اوباما خو ځل د افغانستان «د لانجې پای»، د «خلکو رنځونو» او د امریکایي پوځونو د «وتلو» څخه یادونه وکړه. خو په عمل کې ولیدل شول چې هغه د یوه ځانګړې اړتیا له مخې او د دې لپاره چې امریکا د ویلو لپاره یو درواغ ولري، سپیني مانۍ ته ویورل شو او یو

ګام يې هم له هغې کړښې څخه چې د پانګوالی نظام ستراتيژي جوړونکو د امريکا د امپرياليستي نظام د ګټو ساتلو لپاره په آسيا کې د شوروي اتحاد د پرځېدو وروسته ټاکلې وو وانه خيست او ځان يې د امپرياليستي کمپنيو د ګټو خونديتوب لپاره يو ښه مامور ثابت کړ.

دا چې ولې اوباما اعلان وکړ چې نور نه غواړي خپل خارجي سياستونه د عراق پر محور و څرخي، د دې لپاره نه دی چې امريکايي کمپنی فريښتی ګرځېدلې او د نفتو لوټ يې پريښي، بلکې «پل برومر» د عراق امريکايي واکمن لا پخوا د دې کمپنيو له لارې د عراق د نفتي زيرمو ګټې له ځان سره وړي دي. هغې د عراق ۱۵ ميلیارده ټنه نفتي زيرمي په ۵ امريکايي کمپنيو وپلورلې چې د ۲۵ کلونو لپاره د ورځې د ۶ ميليونو بيرلو نفتو د ويستلو حق يې درلود، چې تر يوه بريده د ۱۷۲ زرو امريکايي سرتيرو خونړی دنده پای ته رسيدلی چې بايد ۳۰ زره يې له عراق څخه بهر او د اوباما د نوي سياست له مخې افغانستان ته لاړ شي. خو اوباما هيڅ کله له عراق څخه د خپلو ټولو پوځونو د وتلو خبره نده کړې او دا ځکه چې په نړۍ کې د ۷۳۶ مهمو پوځي اډو تر څنګ د عراق مهمه پوځي اډه هم وساتي او له هغه ځايه وکړای شي پر منځني ختيځ د خپلو شومو امپرياليستي اهدافو د تر سره کولو لپاره خپله اغيزه ټينګه وساتي.

دلته په لومړي سر کې هغه دليلونه چې ولې امريکې افغانستان باندې يرغل کړی په ګوته کوو او بيا د دوی د حضور لاملونه تر څېړنې لاندې نيسو او ښايو چې نيواک ګر امريکايي پوځونه د يوه له مخه ټاکل شوي ستراتيژي له مخې زموږ هېواد ته راغلي او تر اوسه نه يوازې له کومې ستونزې سره مخ شوي ندي، بلکې بې له کومې انديښنې څخه په افغانستان او په سيمه کې د خپل اوږد مهال نيواک او پاتې کېدلو لپاره په هلو ځلو بوخت دي:

۱- د امريکې متحده ايالاتو د خپلې امپرياليستي واکمنې د ساتلو لپاره د ۷۳۶ پوځي اډو تر څنګ چې هر يو يې له يو ځانګړي ارزښت لرونکي دي په افغانستان هم خپلې منګولې خښې کړي. د نورو پوځي اډو په پرتله افغانستان امريکې او د هغه متحدينو ته د خورا زيات ارزښت لرونکي دی. همدا چې ځوک وپوهيږي چې امريکا په نړۍ کې ولې دومره ګڼ شمېر پوځي اډې ساتي او له هغو څخه خپلو کمپنيو ته کومې ګټې پورته کوي، ژر به د افغانستان نيواک او د هغه څخه لاس ته راتلونکو ګټو په ارزښت پوه شي. ځوک چې د نيواک په تاريخي تجربو او د امپرياليزم په ماهيت پوه وي؛ پدې پوهيږي چې تر اوسه هيڅ کله يرغلګران او نيواک ګره پوځونه د نيول شوي سيمې څخه په خپل خوښه ندي وتلي، چې د امريکې په اړه د ويتنام جګړه د نړيوالو لپاره يوه ښه بيلګه ده. دا په داسې حال کې چې په اوسني وضعيت کې د هغه وخت ويتنام په پرتله افغانستان د امريکايانو لپاره خورا زيات ارزښت لري.

۲- افغانستان د امريکايي اډو د نښلونکي سيمي په توګه کار کوي او د ظهران څخه چې په منځني ختيځ کې پروت دی تر اکيناوا او ديګو ګارسيا چې په لرې ختيځ کې موقعيت لري سره نښلوي. په آسيا کې د دې ليکې ساتل په حقيقت کې د آسيا پر شتمنې قارې باندې د امريکې د واکمنی ساتل دي چې له دې سره د دې قارې، بازارونه، اوومه توکي، د اوبو لارې او د کار ارزان بيه انساني ځواک به د امريکايي کمپنيو په ولکه کې پريووځي او خپل باداري به د نړۍ تر ټولو لويې وچې باندې پلې کړي.

۳- افغانستان د آسيا لوی وچې کې د هستوي سلاح لرونکی هېوادونو (روسيه، چين، هند او پاکستان) تر منځ او د نړۍ د دوو غټو نفتي سيمو (منځني ختيځ او منځني آسيا) تر څنګ پروت دی.

د دې دوو حوزو ځيني برخې د امريکا په ولکې کې دي او ځينو ته يې سترګې ګندلي چې په افغانستان کې د ځای پر ځای کېدو سره به پدې سيمو کې خپلې منګولې لا ښخې کړي چې له دې سره له يوې خوا د هر راز مخالفت ته د

چټك غبرګون ښودلو جوګه کيږي او له بلې خوا د منځني آسيا او قفقاز نفتي حوزې ته خپله لاره پرانيزي او ايران ګوابنلی شي.

امريکا چې د شوروي اتحاد سره په مقابله کې د مليياردونو ډالرو لګښت درلود او په پاي کې يې د نړۍ سوسيال امپرياليست قوت ته ماتې ورکړه چې له دې سره د` پانګوالی تيوريسنانو ډېر په احمقانه توګه د تاريخ پای اعلان کړ خو اوس نه يوازې روسيه، بلکې چين هم د يوې لوی امپرياليستي ځواك په توګه د ځرګندېدو په حال کې دی.

له هغه ځايه چې امپرياليستي قوتونه په خپل منځ کې د خلکو د زيښناك پر سر سيالي لري نو امريکا د روسيې د بيا ځرګنديدني او د يوه اقتصادي او پوځي ځواك په توګه د چين ځرګندېدلو څخه ويره لري، نو په افغانستان کې د خپل قوي شتون سره کولای شي د دې دواړو هېوادونو چې اوس د شانګهای اقتصادي تړون کې متحده شوي، له حرکت څخه مخنيوی وکړي چې دا په آسيا کې د امريکې ګټو د خونديتوب لپاره خورا ارزښت لري.

۵- امريکا د سپتامبر يولسمي په پلمه خپل ځيني پوځونه په آذربايجان، ترکمنستان، ازبکستان، تاجيکستان او قرغيزستان کې ځای پر ځای کړل (ازبکستان د يوه بلوا په پايله کې چې فکر کېدو امريکايي لاسونه به يې تر شاوي، امريکايي پوځونه يي له خپلې خاورې څخه اخراج کړل).

بر سېره پر دې په همدې پلمه يې ګڼ شمېر بحري پوځونه د هند په سمندر کې ځای په ځای کړل. د دې پوځونو د سوندو تېول لګښت د تېرو اته کلونو را په دېخوا د جاپان هيواد څخه د باج په توګه اخيستل کيږي او په همدې ډول د امريکې بې پيلوټه الوتکې د پاکستان په بلوچستان کې د«شمس» په پوځي اډه کې ځای پر ځای شول.

۶- امپرياليستي هېوادونه د افغانستان څخه د مخدره توکو له درکه هر کال څه باندې ۴۰۰ ميليارده ډالره ګټه لاس ته راوړي چې نيمايي برخه يې انګلستان او پاتې برخه يې د امريکا جيبونو ته وليږي. سربيره پر دې د افغانستان ځمکې لاندې زيرمې څه باندې ۵۰۰ ميليارده ډالره ارزښت لري چې پدې توګه افغانستان نه يوازې له پوځي اړخه امريکا او متحدينو ته د پام وړ دی، بلکې د اقتصادي اړخه هم خورا زيات ارزښت لري.همدا اوس امريکايان د افغانستان د طلا تر ټولو لوي کان چې په بدخشان کې دی د استخراج تکل لري او انګليسا نو هم د يورانيمو په لوی کان چې په هلمند کې موجود دی، خيټه اچولی ده.

۷- امريکا چې د تروريزم پر ضد د مبارزې په پلمه افغانستان ته راغله، اوس د اسلامي بنسټپاله ډلو له لارې خپل آسيايي حريفان ګوابنوي او له همدې امله د پاکستان آی اس آی په مرسته هڅه کوي لا زياتې اسلامي بنسټپاله ډلې په خپل موټې کې ولري، چې د اړتيا په وخت کې له دې لوي قوت څخه د حريفانو په کمزورولو او په پايله کې د منځه وړلو لپاره ګټه پورته کړي.

۸- افغانستان د خاصو جغرافيايي شرايطو درلودو سره د نيواکګرو د وسلو ازمېښت لپاره يو مناسب ځای ګڼل کيږي چې له دې لارې د دې هېوادونو وسلې جوړونکې کمپنۍ توانيدلی دی چې خپل بازارونو ته لا پراختيا ور وبخښي. نيواکګر توانيدلي چې په تيرو اتو کلونو کې ۶۵۰۰ ډوله نوي وسلې په افغانستان کې و آزموي او ورځ تر بله طالبانو سره د جنګ په پلمې نوي وسلې افغانستان ته راواردې کړي.

۹- د امريکايانو لګښت په افغانستان کې هغه بې شمېره ډالر دي چې کچه يې يو ترليون ته رسيدلی. په افغانستان کې د هر امريکايي سرتيري کلنی لګښت يو ميليون ډالره دی او زمونږ په هيواد کې د مصرف ځای ته تر رسيدلو پورې د هر ګيلن تيلو لګښت ۴۰۰ ډالره ارزول شوي دي. امريکايانو تر اوسه په افغانستان کې ۱۰۰۰ کسه له لاسه ورکړې (د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ تر ۲۵ پورې چې دا شمېره په عراق کې ۴۴۴۳ کسانو ته رسيدلی). نو هر هوښياره کس په لږ زير کېدلو سره په دې پوهيدلی شي چې امريکايي نيواك ګر دومره بې شمېره پيسې او ويني د

طالب او القاعده ځپلو یا افغانانو ته د بورژوازي دموکراسي د راوړلو لپاره نه لګوي، بلکي په آسانی سره جوتیږي چي امریکایان به په کلونو افغانستان کي پاتي شي.

امریکایان په افغانستان کي د خپل اوږد مهاله تم کېدلو لپاره ځانګړي چمتوالي ته اړتیا لري چي لا د مخه یې بی له کومه ځنډه پیل کړی چي کولای شو لاندي ټکي په نښه کړو:

۱- ستراتیژیك ټرون: امریکا په افغانستان کي تر دم ګړی پوري څو ځل هڅه کړی چي د خپل لاس پوځي دولت سره ستراتیژیك ټرون لاسلیک کړي.دا ټرون یو ځل د کرزي له خوا او د دوهم ځل لپاره د بهرنیو چارو وزیر (سپنتا) له خوا لاسلیك شوي دی.

د دي ټرون په پای کي ځیني امریکایي چارواکو په افغانستان کي د امریکا د ۹۰ کلونو د پاتي کېدلو خبر ورکړی و. دا هغه ټرون دی چي امریکا د نړی زیاتو هېوادونو کي د اوږد مهاله تم کېدلو لپاره تري ګټه اخیستي چي تر اوسه ۸۰ هېوادونو دا ټرون لاسلیك کړی دی.

افغانان د پخوا څخه په یاد لري چي انګلیسانو څنګه د «ګندمك ټرون» سره افغانستان رسماً» اشغال کړ او شوروی هم د «خلکو د دموکراتیك ګوند» د رهبرانو سره د خپل سویلي سرحدونو د ساتلو په پلمه د یو ټرون له مخي پر افغانستان باندي تیری وکړ.

۲- پوځي اډې: تر څو راتلونکو میاشتو پوري چي په افغانستان کي د امریکایي پوځونو شمېره ۱۲۷ زرو کسانو ته لوړیږي او ځان سره نوي ډوله وسلي او مهمات راوړي، امریکا د دې نوي راغلي پوځونو او وسلو د ځای پر ځای کولو لپاره به خورا لویو پوځي اډو ته اړوي. دا پوځي اډې هغو ځایونو کي جوړیږي چي د امریکا آسیایي ستراتیژي ته ګټور وي. امریکا دم ګړی د بګرام هوایي ډګر، د کندهار هوایي ډګر، د شینډنډ هوایي ډګر، د شوراَب پوځي اډه (چي د کندهار- هرات د لوی لارې په سر پرته او هلمند پوري تړلي سیمه ده)، او د خوست او جلال آباد پوځي اډو په پراختیا بوخته ده. د امریکا سفارت په کابل کي ورځ تر بله د نویو سترو ودانیو جوړولو سره پراختیا مومي چي څو میاشتي تر مخه د روغتیا وزارت ودانی هم د دوې له خوا په رسمي توګه «وپیرودل» شوه. داسي ګنګوسي هم شته چي دویم مکروریان به هم د دوې له خوا د ؛پیرولو» وروسته له سفارت سره یو ځای کړای شو. امریکایان د تخته پل په سیمي کي چي د کندهار هوایي ډګر ته څېرمه پرته ده د تیلو لسګونو زیرمو په جوړولو بوخت دي چي هره زیرمه یې د سل زرو څخه تر یو میلیون لیتر تیلو پوري ګنجایش لري.

قدرت ته د باراك اوباما د رسیدو وروسته، ۵۰۰ انجینیران د هغو پخواني راغلو انجینیرانو سره یو ځای شول چي لا تر مخه د دې پوځي اډو د جوړولو لپاره افغانستان ته لیږدول شوي وو.

د بګرام هوایي ډګر چي امریکایانو ته د ټاټوبي ارزښت لري د لا پراخېدلو په حال کي دی چي له دې څخه په څرګنده توګه ښکاري چي امریکا هیڅ داسي یو پلان نلري چي په څو نږدې کلونو کي افغانستان پریږدي. برسیره په امریکایانو، انګلیسان هم په هلمند کي د اډو د جوړلو په تکل کي دي. انګلیسانو خپله تر ټولو لویه قونسلګري په هلمند کي جوړه کړې ده چي په هغه کي ډېر جاسوسان د دیپلوماتانو په نامه میشت شوي دي چي شمېره یې د انګلیسانو له سفارت څخه چي په کابل کي دي، خورا زیاته ده او د انګلیسي چارواکو تګ او راتګ هم په مستقیم توګه د انګلستان څخه دي ولایت ته تر سره کیږي. د امریکا او انګلیس هغه سیاست چي غواړي والیان د مرکزي حکومت د دایرې څخه په جلا توګه پیاوړې کړي د نیواك ګرو د خپلو جلا جلا ګټو د خوندیتوب په مقصد تر سره کیږي چي ښه بیلګه یې په هلمند کي لیدای شو. دا چي المانیان په مزار کي، ایتالیویان په هرات کي، فرانسویان په کاپیسا کي ، دنمارکیان

په فاریاب کي، هالنډیان په ارزګان او نور نیواك ګر هېوادونه په نورو ولایتونو کي د خپلو منګلو خښلو لپاره کوم ګامونه پورته کوي او امریکا د یوه لوي ځواك په توګه دوی ته کومه برخه ورکوي، دا به په راتلونکي کي معلومه شي.

طبقاتي اډه: د امریکي امپریالیزم او د هغه ملاتړي په افغانستان کي لیوالتیا لري چي په لومړي ګامونو کي خصوصي پانګوني ته پام وکړي تر څو له دې لارې وکړای شي چي پانګوال دلالان پر خپلو پښو ودروي. هر کله چي دا طبقه د کمیت او کیفیت له پلوه وتوانیده چي نظام په خپل ولکي کي ونیسي او د هغه مدیران د دې جوګه شول چي د سیاسي، اقتصادي او پوځي برخو کنترول ونیسي نو بیا به نیواکګره ځواك په هوسا توګه د سیمه ایزو موخو او د طبقاتي زبیښناك لپاره لاس په کار شي او د ګوډاګي دولت په کړونو به هم څارنه وکړي. ارضي ملاکان د دې اډې هغه بله برخه ده چي د پانګوالو دلالانو تر څنګ به دا مقدسه وظیفه!! مخي ته ویسي. په اوسني شرایطو کي امریکایان په دلاله بورژوازي او انګلیسان په ارضي ملاکانو تکیه کوي چي له دې پلوه د دواړو په منځ کي مخالفتونه شتون لري.د انجوګانو مشران، له لویدیځه راغلي تکنوکراتان، د دموکراتیك ګوند ځیني مشران چي خپل رویزیونیزم ته یي هم شا کړی ده د دې دلالانو په فکري ډله کي شمیرل کیږي، خو ډېري جهادي مشران او قومندانان، د طالبانو مشران د شریرو ارضي ملاکانو له جملي څخه شمیرل کیږي چي دا دواړه د امپریالیزم اډې جوړوي. انګلیسان زیاد لیواله دي چي د کوچنیو ملاکانو له لارې د افغانستان په چارو کي فعالیت ولري، مګر امریکایان د یو لوي ځواك په توګه نه یواځي پانګوالو دلالانو باندې پانګونه کوي، بلکي ډېرې لوي ارضي ملاکان او په خاصه توګه نوي دوران ته رسیدلي شریره ارضي ملاکان په خپلو په خپلو موټو کي لري چي د تنظیمونو مشران او ډېرې ویني تویونکي ټوپکماران پدې ډله کي حسابیږي. امریکایي اشغالګران خپل اوږد مهاله شتون په همدې کسانو او ډلو ساتي نو داسي کوم منطق نشته چي دا کسان دې محاکمه کړي، مګر دا چي فکر وکړي چي یو یا څو تنه یي نور مصرف نلري او باید وغورځول شي.

۴. د افغانستان دولت: په زیاتو هېوادونو کي چي د امریکایانو په ولکی کي دي او پوځي اډې یي پکي جوړې کړي دي، دولت جوړوني زیاته موده نیولي او د خپلي غوښتني سره سم یي یو لاس پوځي او فرمانبرداره دولت جوړ کړی دی. دا دولتونه له دې سره چي درې ګوني قوه لري او د ملي ګټو څخه خبرې کوي خو د نیواکګرو له خوښي پر ته یوه پاڼه هم بی ځایه کولی نشي. دا دولتونه اطاعت کوونکي او فرمان برداره دي چي ټولي فیصلي یي څه په داخلي او څه هم په خارجي چارو کي، اقتصادي قرار دادونه، پوځي او اقتصادي تړونونه او داسي نورې چارې په ټولنیزه توګه د نیواکګرو په لارښووني سره پلي کیږي چي باید په ټولو کي د نیواکګرو ګټي په پام کي ونیول شي .دا هغه بهیر دی چي اوس مهال زمونږ په هېواد کي روان دی او ترڅو چي دا بهیر مکمل نشي، نیواکګر به په ټولو برخو کي په مستقیم توګه عمل کوي. د دې پروسې د پرمختګ سره به نا امني کمي شي او د یوه فرمان لاندې دولت به رامنځ ته شي. دا ټول وخت ته اړتیا لري او په یوه شیبه کي یي سر ته رسول ناشوني دي، څه چي ځیني فکر کوي چي د نیواکګرو څخه لاره ورکه شوی او د دې کار د سرته رسولو لپاره ناتوانه ښکاري!!

۵. پوځ او پلیس: د پورتنیو دلایلو تر څنګ، د امریکا امپریالیسم پتیلي ده چي په افغانستان کي یو مضبوط او فرمان برداره پوځ جوړ کړي تر څو د دوې لاس پوځی دولت جوړ او د پرګنو مخالفت د دغه دولت په وړاندې په نطفه کي شنډ کړي خو د امریکا لپاره د داسي پوځ جوړول په دې لنډ مهال کي شوني نه ښکاري، په خاصه توګه چي د دې

پوځ د هغه فرمان روایان په بیه واخلي او خپل فرمان لاندې وساتي. دا پروسه په افغانستان کې پیل شوې او د هغه مشورتي بورد" C-Eistic" په نوم یادیږي او د "ایګل" په کمپ کې واقع دی چې د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ټولې جوړښتي چارې د هغه په کنترول کې دي چې ګام په ګام یې د خپلو اړتیاو مطابق یې سمبالوي او د لوړ پوړو چارواکو  تغییر او بدلول د همدغه بورد په واسطه سر ته رسیږي.""

امریکا هیڅ کله نه غواړي چې دا پوځ دومره ځواکمن کړي چې د دوې له کنترول څخه بهر شي د همدې کبله تر اوسه پورې حاضر شوی نده چې دا لاس پوڅي پوځ په هوایي ځواك سمبال کړي، ځکه چې امریکا د افغانستان په هیڅ پیلوټ باندې(پدې خاطر چې ډېرې پیلوټانو په شوروي کې زده کړه کړې ده) باور نه لري. اوس مهال ۶۰ تنه افغانان یې د هوایي او پیلوټي زده کړو لپاره امریکا ته لیږلي چې تر اوسه پورې دوه کاله کیږي چې لا هم هلته دي. پیلوټي زده کړه په شپږو میاشتو کې پای ته رسیږي، خو دوی د پیلوټي زده کړې څخه پرته سیاسي امالیو لپاره تر اوسه هلته ساتل شویدي. اوس مهال امریکایان د افغانستان پر هوایي قلمرو باندې پوره واکمن دي. په افغانستان کې هیڅ پوځي او غیر پوځي الوتکې د دوې له اجازې پرته ښکته او پورته کېدای نه شي دا ځکه چې د هغو تیل او نور لګښتونه یې د امریکایانو او انګریزانو له خوا ورکول کیږي. امریکایان هغه وخت دا پوځ ځواکمن کوي چې فرمان روایان یې لاس په نامه ورته خدمت وکړي، په یوه اشاره کودتا وکړي، او په خپله خاوره کې یوې سیمې ته اور ورته کړي، او پر هر اقدام کې له اشغالګرانو څخه اجازه واخلي. د افغانستان پوځ تر اوسه دې ځای ته ندی رسیدلی، د دغه اردو په صفوفو کې تنظیمي، قومي او سمتي علاقه مندي لیدل کیږي. ځینې وګړي یې معتاد دي او اکثره افسران او سربازان یې په افغانستان کې د نیواکګرو له شتون څخه ناراضه دي او په دې باندې امریکایان ښه پوهیږي. مګر امریکایان هلې ځلې کوي څو پوځ په خپله ګټه "تربیه"کړي او تر هغه وخته پورې به امریکایان د افغانستان د کوڅو او بازارونو او پوځي واك پخپله غاړه واخلي، تر هغې چې د تالی ښتي اردو د جوړیدنې څخه ډاډمن شي، هغه وخت به په خاطر جمعي سره په خپلو اډو کې میشت او په آرامی سره به حکمونه چلوي، لکه هغه څه چې همدا اوس په عراق کې تر سره کیږي. دې پوځ ته به ملي ګټې او خپلواکي هیڅ ارزښت و نه لري او قومندانان به یې پیریدل شوي شوي افراد وي او په لوړپوړو دندو کې  هر بدلون به  یواځې د امریکایانو په اجازه تر سره کیږي. امپریالیستان، داسې پوځ او پولیسو ته د رسیدو لپاره څرګنده ده چې وخت ته اړتیا لري او دا شوني نه ده چې په لنډ مهال یا د څو کلونو په ترڅ کې دې هدف ته ورسیږي.

۶- استخبارات: نیواکګر ځواکونه په عمومي توګه پر استخباراتي کارونو باندې ډېره تکیه کوي. متحده ایالات چې ۱۵ استخباراتي شبکې لري د دوې مرکزي سازمانونه CIA او اف بي آي FBI په افغانستان کې سخت فعال دي. له هغو څلورو هېوادونو څخه چې په نړیواله کچه اف بي اي FBI  پکې فعالیت لري، یو یې افغانستان دی.  د سیا سازمان په هره میاشت کې یو میلیون ډالره "د افغانستان ملي امنیت" ته ورکوي او د هغه یوه برخه د انګلستان انتلجنس (Intelligence service) پواسطه حمایه کیږي. دا وخت په افغانستان کې ۶۵ زره جاسوسان فعالیت کوي، د لویدیځ څخه اکثره  راغلي کسان چې د قدرت په کورسیو ناست دي د امریکا استخباراتي شبکو سره اړیکې لري. امریکایان غواړي په افغانستان کې داستخباراتي شبکو فعالیتونه دومره لوړې کچې ته ورسوي چې هره شیبه له هر حرکت څخه خبر  شي او د دغو جاسوسانو په واسطه د سیمې اطلاعات تر خپل پوښښ لاندې راوړي. دا کار په ډېره بیړه پر مخ ځي، او عموماً ځوانان او پیغلې د یو کلن او څو کلن بورس په پلمه امریکا او انګلستان ته لیږل کیږي او د"نړیوالو اړیکو" ماستري ورته تدریسوي. پدې توګه د دوې له منځه څخه ځانته جاسوس غوره کوي او

وروسته يې تر خپلې روزنې لاندې نيسي. يو شمير افغانان د مرستيال او ژباړونكي په نوم د امريكايانو په اړو كې په كار بوخت دي، دوې اكثراٍ ځانونه امريكايان ګڼي، ځيني افغاني ګروپونه د امريكايانو له خوا مسلح كيږي او تنخوا ورته وركوي او پوځي عمليات د دوې پواسطه اجرا كوي. په شرق كې د "شاهين" ګروپ او په مركز كې د "الماس" كماندويي ګروپ له ډېرو امكاناتو څخه برخمن دي چې په ټول ځواك سره په افغانستان كې د امريكايانو څخه دفاع كوي. د "الماس" ګروپ په ټولو عملياتو كې د امريكا سپيشل فورس سره مرسته كوي او په يوه اشاره او د امريكايانو په خوښه هر ډومره افغانان چې وغواړي وژلی شي. دا هغه تر ټولو وطن پلورونكي قوت دی چې تر اوسه پورې د امريكا يانو له خوا روزل شويدي. يو شمېر افغانان په انجو ګانو او نورو خارجي موسسو كې كار كوي، په امنيتي كمپنيو كې استخداميږي او د خارجيانو په چوپړ كې دي. دوې ټول پخپل هېواد كې د امريكايانو په وړاندې نه يوازې دا چې حساسيت نه لري، بلكې د دوې شتون په زړه او فكر صحيح ګڼي، دوی اكثراًٌ په مستقيم يا غير مستقيم توګه د امريكايانو عوامل دي او په اوږد مهال كې د خپل هېواد له اشغال څخه ملاتړ كوي، بالاخره دا پانګه اچونې په دې معنا دي چې امريكايان ژر له افغانستان څخه وتوونكي ندي.

۷- نورې وسيلې:

امريكايان تكل لري چې خپل د اوږد مهال شتون لپاره د معنوي وسيلو څخه لكه دموكراسي، پلوراليزم، د ښځې او سړي د حقوقو برابرتيا، د مطبوعاتو آزادي، د بيان آزادي، انتخابات، قانونمداري، آزاد بازار، بشري حقوق او داسي نورو ته پناه يويسي او دا وسيلې د مدني ټولنې، سياسي حزبونو (چې ځينې يې د مدني ټولنو غړي دي) د بشر د حقوقو كميسيونونو، يوناما او داسې نورو شيانو په قالب كې وړاندې كوي.

امريكايي امپرياليستان د دې وسيلو نه په ګټې اخيستلو سره چې د اروپايانو ډېر خوښيږي، نه يوازې د دموكراتيك ګوند څخه استحاله شوي تشكلات، هېواد پلوري تنظيمونه او د لويديځ د اغيزې لاندې تكنوكراتان رام كړي، بلكې په شعله اي غورځنګ پورې تړلې ځينې سازمانونه چې ستر وياړونه يې درلودلې، هم تسليم كړي او اوس چې بايد حزبونه بيا د لس زرو تذكرو سره د لاسپوځي دولت د عدليې په وزارت كې ثبت او راجستر شي د دوې كوچنې او لويان شپې او ورځې د تذكرو د ټولولو او د قانوني او بې ايديولوژي حزب د جوړيدنې په نامه د خلكو په غولولو او د تسليمېدولو ميدان ته په كاړلو بوخت دي، چې پايله يې د امريكايي نيواكګرو پښو ته د انقلابي روښان اندو د سرونو ټيټول دي او د كيڼ غورځنګ د يوه ملګري په وينا "دوې هڅه كوي چې د پرون زمری د ننني خر په لكۍ پسې وتړي" اوله مډال اخيستنې او د جيره خوړنې څخه محرومه پاتې نه شي.

د داسې ګوندونو جوړول بې له دې چې د نيواك تائيدول او د لاس پوځي دولت په رسميت پيژندنه وي بل څه كېداې شي؟ د داسې حزبونو فعاليت د نيواك د تل پاتې كېدو لپاره اړين دي او له هغه ځايه چې ځينې تسليمېدونكي منحرفه او مډال اخيستونكي سازمانونه شرم لري چې په مستقيمه توګه د نيواك ګرو د مشرتابه يعني امريكا سره په اړيكه كې اوسي (كه څه هم مډالونه ترې اخلي) او په خپله امريكا هم د خپلو مخكينيو تجربو په بنسټ په دې حساسيتونو باندې پوهيږي له همدې لامله يې تر كومې چې شواهد ښكارندوی دی زموږ د هېواد انقلابي ګوندونو په لومې اچولو او د لاس پوځي كولو دنده يې د ايتاليا هېواد نيواكګرو ته سپارلې تر څو د شفيقو اروپايانو د شفقته ډك لاس د دوې پر سر كيښودل شي او د لويو فندونو څخه يې برخمن كړي چې د تل لپاره تسليم او په سر ټيټې كار وكړي.

د امريكا په "دموكراتيك"نظام كې دا ګوندونه بايد پوزيسيون يا اپوزيسيون وي، د ايديولوژي له لرلو څخه ډډه وكړي او په پيغور او ملنډو سره انقلابي سازمانونه ايديولوژيك ګڼي او د ټول ظاهري مخالفت سره، هيڅ كله د حاكم نظام

پر ضد دښمني نلري او کوشش کوي چې د قانوني ګوند د هويت د تثبيت لپاره له نظام سره په ډېره نرمی چلند وکړي.

دا ګوندونه په سياسي سياليو (انتخاباتو) کې ګډون کوي او د بورژوازي دموکراسي تمثيلوي او ځکه چې رسمي دی نو اعتراضونه او عملونه يې هم قانوني بڼه لري ، له دې محدودي څخه پښه وړاندې نږدي. د دې ګوندونو، چې په دې څو کلونو کې د تنظيمونو فساد سره منځ ته راغلي، غړي ګوندونه د يوه غوړې مړی په څېر ګڼي چې په خاصو حالاتو کې يو څه په لاس ورشي، په دې ګوندونو کې د غړيتوب موخه همدا ده. دا ګوندونه د ځيني امکاناتو په درلودلو سره زموږ له غريبو خلکو څخه تذکرې او فورمې په زوره راغونډوي او د څو من غنمو ورکولو سره هغوی غولوي او په دې توګه د غړو په بيه اختسلو پيلوي او په غونډو کې کرايي کسان او غړي کابل ته راوړي. د لسو زرو کارتونو ټولول په هيڅ توګه د دې ګوندونو څخه د خلکو ملاتړ نه ښايي، ځکه چې د ګوندونو جوړونه يو له هغه وسيلو څخه دي چې امريکا د هغې په ذريعه په افغانستان کې د خپل شتون، د هغوی تر منځ د زرګري جګړې بلولو او د انقلابي ايديولوژي څخه د وګړو او ګوندونو د تشولو لپاره کار اخلي. له داسي بی ننګه ګوندونو څخه خلکو ته د خدمت کولو تمه لرل د افغانستان وګړو او ولس ته د سپکاوي کولو برابر دی.

۸- د نيواك پلمې:

د تاريخ په اوږدو کې هر کله چې کوم امپرياليست د کوم هېواد د نيولو هڅه کړې تر هر څه يې مخکې د خپلو منګولو خښلو لپاره پلمې پيل کړي او بيا يې په نيواک لاس پوری کړی دی. په ۱۹۷۹ کال کې شوروي اتحاد د خپل سويلي سرحدونو د ساتلو په پلمه پر افغانستان باندې يرغل وکړ.

امريکا په ۱۹۹۱ کال کې پر عراق باندې د کويت د نيول کېدو په پلمه يرغل وکړ او په ۲۰۰۳ کال کې يې د صدام د ډليزو وسلو په پلمه دا هېواد يې په مکمله ډول اشغال کړ، چې هيڅکله يې هم ونشو کړای چې د دې وسلو شتون ثابت کړي. امريکايانو د افغانستان د نيواک لپاره د سپتامبر يوولسمه، القاعده او طالبان (نړيوال تروريزم) پلمه کړ (داسي ډېر دليلونه او قراين شته چې د سپتامبر د يوولسمي تر شا د (CIA) لاس و ) او ور ور يې زمونږ د هيواد نيواک بشپړ کړ.

امريکايانو چې په خپله په لسو کلنو کې (۱۹۸۲ تر ۱۹۹۲) پاکستان ته د عربانو د راتګ او د شوروي اتحاد پر ضد د جنګېدو لارې چارې جوړې کړی، بالاخره د دې ناراضي عربانو له منځه القاعده جوړه شوه او اسامه د القاعده ډلي د مشر په توګه راڅرګند شو.

اسامه په ظاهري توګه هغه مهال د امريکي او عربستان په ضد ودرېد چې عراق پر کويت يرغل وکړ او امريکي د عربستان د «امنيت ساتلو» لپاره خپل سرتيري هلته ولېږل، چې بايد همداسي شوی وای، ځکه چې امريکايانو بی له القاعدې سره په دښمني کې څنګه کولای شو چې دا دومره پوځي اډې جوړې کړي؟ د امريکي پر ضد د القاعدې حملې په ۱۹۹۸ کال کې د کينيا او تانزانيا په پلازمينو کې پيل شوی چې په پايله کې ۲۰۰ امريکايان ووژل شو چې له هغې وروسته د القاعدې ډلې غړي د امريکايانو د دوی د متحدينو او د عربستان د اميني ځواکونو لخوا تر څار لاندې ونيول شول. دا په دقيقه توګه هغه وخت و چې د شوروي اتحاد د ړنګېدو او تقسيميدو کار څو کاله مخکې پای ته رسيدلی وو او د امريکي خونړی زبرځواک د خپلو وسلو د کارخانو د فعاله ساتلو لپاره يوه فرضي دښمن په لټون کې وو چې هم لکې يې د دوی تر پښي لاندې وي او هم د لويو او بی رحمو عملياتو جوګه وي چې وکړای شي ټول ويروي. دا فرضي دښمن له القاعدې پرته بل څوك نشو کېدای چې په ټوله نړی کې يې شتون درلود او

امریکي هره شیبه کولای شو چې د هغه څخه په کټه اخیستنې سره هر هېواد چې وغواړي تهدید او تر څار لاندې ونیسي.

د امریکي متحده ایالاتو خپل وروستي هدفونو لاس ته راوړني لپاره بیا هم په پاکستان کي خپل مزدور دولت ته مخه کړه او په مکمله همغږۍ سره یې خپل ځواکونه په سیمه کي ځای پر ځای کړ. د سپټامبر یوولسمه، چې په کي د امریکا خاښونه له منځه ولاړل د سیا(CIA) سازمان طرح وه چې لاندې شواهد او نښاني دا ادعاوې تائیدوي:

- د القاعدې پیلوټان څنګه وتوانېدل چې د امریکي د څو هوایي ډګرونو څخه طیارې په یوه وخت کې و تښتوي او څرنګه د شدیدو امنیتي خنډونو څخه تېر شي. دا کار د امریکایي امنیتي ځواك د مرستي پرته نا شوني و.
- پدې ورځ کي د امریکي تجارتي مرکز ګڼ شمېر کار کوونکي نه ؤ راغلي چې د دې پیښي په اړه د دوی تر مخه خبرتیا ښایي.
- یو امریکایي عکس اخیستونکی چې د دفاع وزارت له لورې د دې منطقي په صفري نقطه کي له پخوا نه د عاجلو عکسونو اخیستلو لپاره ځای پر ځای شوی ؤ له هغې وروسته چې ۱۷ روله فلمونه یې ثبت کړي ؤ او ارجنتاین ته تښتیدلی و، وایي چې د «سیا» سازمان له هغه څخه د دې فلمونو د اخیستلو لپاره او د هغه د ورکولو څخه د ډېرې کولو په پایله کي هغه دوه وارې شکنجه کړی، مګر هغه غواړي چې د دې عکسونو په وسیله دا ثابته کړي چې دا کار د «سیا» سازمان تر سره کړی دی او هغه دا ادعا هم کوي چې د دې دوو بلډنګونو تر څنګ د «سیا» یو یوولس پوړیزه ودانۍ هم وه چې له هغه ځای څخه دا عملیات اداره کېدل او څو ورځې وروسته دا ودانۍ هم د «سیا» لخوا د دې لپاره چې شواهد او سندونه د بل چا لاس ته ورنه شي، منفجره شوه.
- یو فرانسوي سرتیرې چې د توری بوری په عملیاتو کي یې ګډون کړی وو د دې ادعا یې کوله چې اسامه د هغه په نښه کي وو خو یو امریکایي افسر د دې د ډزو کولو مخه ونیوله.
- امریکایان د استخباراتو ډېر پر مختللي امکانات په واك کي لري او له دې پرته د پاکستان ISI خپل ټول امکانات د CIA په واك کي ورکړي او د «سیا» تر ټولو لوی مرکز هم په اسلام آباد کي شتون لري. دا چې د داسي امکاناتو درلودلو سره څنګه اسامه بن لادن، ایمن الظواهري او ملا محمد عمر کولای شي د دې دوو ویر اچوونکو سازمانونو څخه په پاکستان کي پټ شي د هیڅ چا لپاره د منلو وړ نه ده او ټول پدې باور دي چې په مستقیمه توګه دوی ټول د «سیا» په کنټرول کي دي.
- کله چې د پاکستان پوځ پر وزیرستان باندې چې د القاعدې تر ټولو مهمه اډه ده د برید هوډ درلود؛ د القاعدې د ۲۶ زره پوځ څخه ۲۵ زره یې په څو هفتو کي دننه دننه یمن ته وتښتېدل. امریکا د کلنو را پدې خوا په یمن کي د خپل پوځونو ځای پر ځای کول غواړي تر څو له یوې خوا وکړای شي چې پر سعودي عربستان او له بلې خوا د باب المندب په نري وچې او د سویز کانال څارنه وکړي، او داسي ښکاري چې ګواکی امریکایي ستراتیژي جوړونکو د القاعدې مشرانو سره یوځای په یمن کي د القاعدې د ځای پر ځای کېدو تصمیم په ګډه نیولی وي.د یمن دولت، چې پنځه ځل یې صنعا ته نژدې د القاعدې په اډې باندې بریدونه وکړ او بریالیتوب یې نه درلود نو اوس د امریکي بې پیلوټه طیارې په یمن کي د القاعدې په پټن ځایونو باندې بریدونه کوي او تر اوسه پورې د یمن دولت څو ځل په غیر مستقیمه توګه د امریکي څخه د

پوځونو دليرولو غوښتنه کړي ده. منځني ختيځ ته د القاعدي د تللو وروسته داسي هڅي رواني دي چي «لشكر طيبه» دي د القاعدي ځای ونيسي چي د دې سره به د عربانو حساسيت هم لږ شي او د القاعدې ډله به هم په منځني ختيځ کي خپله دنده سر ته رسوي.

د سپټامبر د يوولسمي نه وروسته دې نامرئي دښمن د امريکي لپاره په سعودي عربستان، عراق، کويټ، قطر، آذربايجان، ترکمنستان، ازبکستان، افغانستان، پاکستان، تاجيکستان او قرغيزستان کي د پوځي اډو جوړولو لاره پرانيسته او همداسي د امريکا جګړيزه بيړی د تروريزم پر ضد د عملياتو په پلمه د هند په اوبو کي ځای پر ځای شول.

- د افغانستان شمال لوري ته د جنګ د پراخلو په موخه امريکايي الوتکو د طالبانو جګړه مار کندز، بغلان او فارياب کي پلي کړل چي دا خبره نه يوازې د دې ولايتونو واليانو، بلکي کرزی هم تائيد کړې او هم د وسلي نه ډك کانتينرونه يې د طالبانو قومندانانو ته سپارلي چي د دوې څخه يو يې په قلات کي افشا شو چي د ډير شورماشور يې پورته کړل. د افغانستان د اردو څو تنه افسران وايي چي له هغو لوژستيکي امکاناتو څخه چي مونږ سره دي طالبانو هم ګټه اخلي چي د جګړې پر مهال څو واري د طالبانو له مورچو څخه د اردو لاس ته ورغلي دي. داسي ښکاري چي امريکايان او انګليسان د جګړې دوام خواو ته په وررولی سره په برابره ډول وسلي او نور امکانات ورکوي او غواړي چي دا انډول له منځه ولاړ نه شي او د جنګ لمبې تر اوږده مهاله بلي وي.

د پورتني ټکو ته په ځير کيدو سره جوته کيري چي امريکا د تل پاتي کيدلو لپاره يوې مودې ته اړتيا لري، نو همدې لپاره بايد داسي وسيلې په لاس کي ولري چي په تدريجي توګه دا موقع ورته برابره کړې او هيڅ څوك د دوې په پاتي کيدولو باندې نيوکه ونلری. د القاعدې ويرې اچونکي سازمان دا کار په آسيا کي د امريکي د شتون او اډو جوړوني او طالبانو په افغانستان کي تر سره کړ.

اوس نو امريکايان د خپل شتون لپاره طالبانو ته او د طالبان د خپل دوام لپاره امريکايانو ته اړتيا لري او په دې ډول يو بل ته لازم او ملزوم ګرځيدلي دي.

طالبان چي د انګليس، امريکا، سعودي عربستان او پاکستان لخوا زيږول شوي او په حيرانوونکي توګه يې القاعده ځان سره ونښلوله او داسي کسان يې په مشرتابه کي ځای پر ځای شول چي د هيڅ ولسوالی خلکو نه پيژندل او همدا ناپيژندل شوي کسانو د کابل په ګډون د افغانستان ۹۰% برخه دوه کاله وروسته تر ولکي لاندي راوستله چي دا ښايي چي يوه پياوړې ځواك د دوی تر شا ولاړ وو. دا رهبران عبارت و له: ملا عمر، ملا رباني، ملا محمد حسن، ملا برادر، ملاکبير، ملا متقي، ملا متوکل، ملا جمال، ملا احسان، ملا نيازي، ملا عبدالرزاق، ملا ترابي، ملا خير اله، ملا داد اله، ملا محمد غوث، ملا حکيم مجاهد، ملا بورجان، ملا عبداله او ملا محمد رسول چي د دوی له ډلي څخه تر اوسه ملا بورجان، ملا احسان اله، ملا رباني، ملا داد اله او ملا حسن وژل شوي دي. ملا محمد غوث، ملا خير اله، ملا کبير، ملا ترابي او ملا مراد نيول شوي او بيا امريکايانو ته سپارل شوي دي. او ملا متوکل، ملا مجاهد او ملا ضعيف کرزي دولت ته تسليم شوي چي له دې ټولي ډلي څخه ملا عمر، ملا عبدالرزاق، ملا عبيد اله، ملا نيازي، ملا متقي، ملا جمال او ملا محمد رسول پاتي دي چي د طالبانو رهبري کوي. له دې سره چي دې تحريك دومره غټه ضربه وليده او د مشرتابه له ۱۹غړو څخه يې يوازې ۷ تنه پاتي شول بيا هم سازماندهي شول او دا دومره پراخه جنګ اوس په اتوماتيکه توګه مخ ته وړل کيږئ دا پوښتني راولاړوي چي طالبان بيا له کوم ځايه تمويل شول، څنګه يې وسلي تر لاسه کړي، دومره لوژستيکي مرستي ورسره له کومي شول، کومو کسانو د دوې د مشرانو

او لویو قومندانانو لپاره پټن ځایونه سمبال کړل، دومره انتحاریان او د انتحار او انفجار دومره پرمختللي وسیلې له کومې او د کومو کسانو لخوا تیار او د دوی په لاس کې ورکړل شول. په ټول تحریك کې د مشرتابه بدلون او د قومندانانو ځای پر ځای کول څنګه اداره کیږي، د کوټه شورا څنګه عمل کوي، د عملیاتو لپاره سیمې څنګه ټاکل کیږي، د سیمو، قومندانانو او د طالبانو رهبرانو تر منځ اړیکه په کوم ډول ټینګیږي او داسې لس ګونه نور پوښتنې دي چې د ټولو لپاره ګنګې او د پوښتلو وړ دي. خو هغه کسان چې د امپریالیستانو او د هغو ګوډاګې رژیمونو د کړنو سره آشنا دي پدې ښه پوهیږي چې د طالبانو تر شا ډېر پیچلي، ویرونکي او له تجربې ډك سازمانونه لکه: «سیا»، انتلجنس سروس او د پاکستان ای اس ای ودریدلي دي چې داسې جګړې رهبري کوي او له دې لارې څخه د ټولو ګډونوالو منافع او مقصدونه پوره کوي.

خو دا چې د ځینو په اند پاکستان امریکا غولوي، د دوی په سادګي او حالاتو ته نه ځیر کېدل ښایي. پاکستان له افغانستان څخه د ډیورنډ د کرښې په رسمیت پیژندنه، تجارتي ګټې او د دوی تر ولکې لاندې بازار غواړي او امریکا غواړي چې د پاکستان او افغانستان تر منځ دا تریګنې اوږده شي او پاکستان له طالبانو څخه همداسې ننګونه وکړي تر څو د جګړې اور تر اوږدې نیټې پورې لیګدلي وي تر څو امریکایان خپلو ټاکل شوي هدفونو ته ورسیږي. دلته د امریکا او پاکستان ګټې یو بل سره تړاو لري او که داسې هم نه وای نو د یوه ګوډاګې دولت په توګه بیا هم پاکستان نشو کولای له هغه څه چې امریکا غواړي سرغړونه وکړي. پاکستان د امریکې په مرسته د پرمختللو فانتوم الوتکو او آن تر دې چې د اتومي وسلې خاوند شو او اوس مهال امریکا دا هېواد د لیزري بمونو د لاربنود دستګاه په وسلو سمبالوي. پاکستان، سویل ته د شوروي اتحاد د اغیزې د مخنیوې لپاره د امریکا د ګټو د ساتلي سپې په شان عمل وکړ او د هند د اوبو څخه د امریکې د دفاع مثلث غړو څخه یو مهم غړی شمېرل کیده. په ایران کې د شاهي نظام د پرځېدو وروسته د «سیا» ټول سندونه اسلام آباد ته ولیږدول شول او اوس په پاکستان کې هیڅ بدلون د امریکې له رایې او نظر پرته او په دویم ځای کې د انګلیس له اجازې پرته ترسره کیداې نشي. ټول پاکستاني جنرالان په امریکې او انګلیس کې زده کړې کوي او د امریکایانو هر فرمان منلو ته تیار دي. د پاکستان ۲۷ سلنه بهرني پانګه اچونه د امریکې او ۲۵ سلنه یې د انګلیسانو په ولکې کې ده.

نو پدې توګه پر طالبانو باندې د پاکستان او آی اس آی کنترول په حقیقت کې د امریکا کنترول دی او دا چې ولې پدې حساسه وخت کې چې کرزی، انګلیسان او سعودي عربستان طالبانو سره د خبرو اترو او مصالحې کوښښونه کوي پاکستان، ملا برادر چې د طالبانو اصلي مهره ده دستګیروي، ملا برادر له هغو کسانو څخه وو چې خبرو اترو ته یې خوښی ښودله، امریکې په ظاهري توګه پاکستان ته ۳۹۴ میلیونه ډالره د ده په بدل کې ورکړې او ویې ښودل چې لا وختي دی چې طالبان په ټولیزه توګه له منځه یوسي او یا یې په قدرت کې شریکه کړي، او بالاخره دا چې د امریکې او د هغه لاس پوخي پاکستان څخه پرته څوك به و نه توانیږي چې طالبان د مصالحې میز ته راکش کړي.

امریکې چې لا تر اوسه خپل ۳۰ زره پوځ افغانستان کې ندی پلی کړی او د دې لپاره چې د راوړلو پلمه یې جوړه کړي( د ۱۵ زره پوځیانو په ګډون یې د مارجې(چې د نادعلي په سویل کې یوه کوچنی سیمه ده) عملیات په لاره واچوله تر څو نړېوالو ته وښیي، چې که د مارجې عملیاتو لپاره ۱۵ زرو پوځونو ته اړتیا ده نو د طالبانو د پرځولو لپاره د لا ډېرو امریکایي پوځونو راوړل اړین دي. او که نه لوګر چې یوه نا آرامه سیمه وه او د طالبانو او حزب اسلامي د فعالیت مهم ځای و، امریکایان د ۱۵۰۰ سرتیرو سره وتوانېدل چې دا سیمه په دوو میاشتو کې دننه آرامه کړي.

پورتني توضيحات دا جوته کوي چي امريکايان د افغانستان په نيولو سره د پروګرام نشتوالي سره مخ ندي او کارونه له پخوا جوړشوو ستراتيژيو پر بنسټ پر مخ يوړل کيږي. دا يوازې هغه ناخبره، ساده او کم معلوماته کسان دي چي د نيواك ټولي خواووې ارزولي نشي، د دې پر ځاى چي خپله ناپوهي سمه کړي، نيواکګره پوځ بی پلانه او بی برنامې ګڼي او غواړي چي دا ملا نصر الدين ډوله فکرونه په نورو هم ومني. امريکا د اوږدو مهاله تم کېدو په نيت افغانستان ته راغلی تر څو له يوې خوا د سيمي کنترول په خپل واك کي ولري او له بلې خوا وتوانيږي په خپل ټول قوت سره افغانستان کي لوټ ماري وکړي. افغانستان د امريکي په قاره اي سياستونو کي د يوه ټکی مثال لري خو دا هغه ارزښتناکه ټکی دی چي غواړي لږ تر لږه ۹۰ کاله يي په خپل موټي کي وساتي او که نه نو طالبانو په شان د يوه فاشستي او بی بنياده تحريك پرځول د امريکي لپاره د اوبو د ګوټ د تيرولو څخه هم آسانه ده (طالبان د خلکو پر ضد يو تحريك دی چي د افغانستان اکثره خلك يي ملاتړ نکوي).

دا د انقلابي ځواکونو دنده او اصالت دی چي د يوه مخکښ ګوند جوړولو سره او له دې طريقه د کليو له لارې د ښارونو د محاصرې سره ټول نيواك ګر پوځونه وشړي او د نيواك په ورانيو د پرولتاريا ديکتاتوري جوړه کړي، څه چي په ويتنام کي وشو او تر هغه دمه به افغانستان هيڅ کله ويتنام جوړ نه شي، او که نه په نورو هېوادونو او په افغانستان کي تجربو ښودلي ده چي چپاولګران په لومړي سر کي د خپلي فتحي او پښو ټينګولو په اړه فکر کوي او له هغه وروسته خپل ستراتيژيك هدفونه پلي کول او دا هغه څه دي چي اوس مهال په افغانستان کي په سيستماتيکه توګه روان دي.

**مړ دې وي امپرياليزم**

**مخ په وړاندې د سوسياليزم په لور**

**د افغانستان انقلابي سازمان**

**د ۱۳۸۸ د کب اومه**